# د پښتو ژبې لنډ ارتقائي تاريخ او په ؤ، وھ يا وۀ کښې فرق

## The short evolutionary History of Pashto Language and Difference between ؤ،وھ and وۀ

Dr. Nasrullah Khan[1]

Mr. Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai[2]

*Abstract*

*Pashto language is one of the most ancient languages. It has its own origin and historical background .Every nation is passing through evolutionary period and get its due position in the world. Through this revolutionary process a nation faces new and novel situations which make impacts on the cultural and lingual side as well. Pashtoon is one of those Nations who face several evolutions in its way to tomorrow. Pashtoons are passing through the transaction period in a sense. They are facing cultural crisis first time in history and that's why its cultural values are to be safe and strong for that the language is the most important tool to safeguard Pashto and Pashtoon. The process for the common and one agreed sricpt for Pashto has its own background. Unfortunately the Pashtoons are still not agree on one script for Pashto. There are many problems and errors in the script which are to be trying to resolve for the sack of Pashto language and the unity of Pashtoon. This Paper will discuss the problem of ؤ،وۀ and ,وھ in the script of Pashto in Detail with the short evolutionary journey of Pashto Language.*

Keywords: *Pashto Language, Ancient languages, Origin, Historical background, Nation, Evolution, Evolutionary, Period, Process, New and Novel, Cultural, Lingual l, Crisis, Common, Agreed, Script, Transaction period, Problems and error.*

په انساني تخليق کښې الله تعالٰی دَ ډېرې فياضۍ نه کار اخستے دے اؤ انسان ئې په ټولو مخلوقاتو کښې لۀ ټولو نه په غوره رنګ اؤ غوره جوثه جوړ کړے دے لکه چې الله تعالٰی په قرآن پاک کښې فرمائيلي دي.

[1] Assistant professor, Department of Pashto ICP.

[2] Lecturer in Department of Pashto, ICP

لَقَد خَلقنا الانسانَ فی احسنِ تقویم (سوره التین پاره 30 ایت 4)

(واقعي چې مونږ انسان لره دَ ټولو نه په غوره جوړه پېدا کړو)

دَ بنیادم په دغه صفتونو اؤ خصوصیاتو کښې یؤ غټ صفت نطق (خبرې کولو) دے چې دۀ لۀ ئې پرې په نورو مخلوقاتو خصوصاً په حېواناتو فوقیت ورکړے دے، هم پۀ دې وجه دۀ ته حېوانِ ناطق وئیلے کېږي.

" د ژبې اساس هغه ږغونه او اصوات دي، چه له خولې څخه را وزي، دا اصوات چه سره یو ځاي سي، یوه کلمه ځینې تشکیل کیږي. د اصواتو او ږغو د ښکاره کولو لپاره ځینې اشکال وضع شوي دي، چه هغه موږ حروف او توري بولو."[i]

مطلب دا چې هر قام خپله ژبه لري. دَ لیکلو په شکل کښې دَ خیال څرګندولو دَ پاره ژبپوهانو څۀ خاص شکلونه اؤ علامتونه مقرر کړي دي چې حروف (Alphabet) ورته وئیلے کېږي. هسې خو نور ځناور اؤ مرغۍ هم قِسما قِسم اوازونه کوي، شور زوَږ کوي چې هغوي ئې په مطلب پوهېږي ولې دغې ته په اصطلاح کښې ژبه نۀ شي وئیلے بلکې اشارې ورته وئیلے شي.

" ژبه هغه ږغونه دي چې د دغو په وسیله هر اولس د خپلو مقاصدو تعبیر کوي، یا هغه اصطلاحي وېناوي دي، چې د یوه قوم پر ژبه جاري وي، په عربي ئې لسان یا لغت بولي او لۀ یوناني لوغوس څخه به جوړ شوي وي چې معني ئې کلمه ده او په اروپائي اصطلاح ئې لانګویج LANGUAGE بولي."[ii]

ژبه په دوه معنو کښې استعمالېږي. یوه دَ غوښې هغه ټوټه چې دَ بنیادم په خلۀ کښې دَ حلق نه راوتلې دَ غاښونو په مېنځ کښې پرته وي اؤ بله ژبه هاغه وي کومه چې دَ بنیادم صوتي اشکالو ته وائي، دے پرې بل بنیادم ته دَ خپلو خیالاتو اظهار کوي اؤ دے پرې دَ خپلو پیچیده خیالاتو څرګندونه هم کوي. دَ دُنیا په مخ یوه قبیله یا کورنۍ هم داسې نشته چې دَ خپلو خیالاتو دَ اظهار دَ پاره څۀ نۀ څۀ ژبه نۀ لري. دَ یوې اندازې مطابق په موجوده وخت کښې په ټوله نړۍ کښې تقریباً اووه زره (7000) ژبې وئیلے کېږي. په دغو کښې ډېرې ژبې داسې هم دي چې تشې نامې ئې پاتې دي ولې څه وجود نۀ لري. دَ ژبو دَ اغاز پۀ

حقله ژبپوهان په خپلو کښې په یوه خلهٔ نهٔ دي اؤ جدا جدا نظریې لري. ځینې ماهرین وائي چې ژبه دَ انسانانو دَ پېدا کېدو نه په مودو مودو پس پېدا شوې ده اؤ دَ ډېر وخت دَ پاره دَ دغه عطیې نه محرومه پاتې شوې دي. دَ دې نظریې خاوندان په مسئله ارتقاء (Evolution) عقیده لري. دَ دې نظریې منونکي دا عقیده لري چې انساني مخلوق تقریباً پنځلس لاکه کاله (۱۵۰۰۰۰۰) اګاهو دَ زمکې په مخ موجود ؤ چې نهٔ ئې څهٔ کلچر ؤ اؤ نهٔ ئې څهٔ ژبه لرله. بیا ئې تقریباً پنځه لاکه کاله (۵۰۰۰۰۰) پس یعنې دَ نن نه لس لاکه کاله (۱۰۰۰۰۰۰) اګاهو دَ ژبې استعمال شروع کړو. دَ دغه ماهرینو خیال دے چې په اول سر کښې به دغه انسانانو لکه دَ نورو ځناورو نېغ په نېغه دَ کومې نه چغې، اوازونه اؤ کریکې راویستلې چې څهٔ خاص شکل (الفاظ) ئې نهٔ لرلو، البته بېل بېل مقصد دَ پاره به ئې یؤ شان اوازونه ویستل. هم دغه بې جوړه اؤ نیمګړي اوازونه دَ ژبې ابتدا اوګرځېده. جدا جدا قبیلو دَ خپلو مقاصدو لهٔ پاره جدا جدا قِسم اوازونه مقرر کړي وو. بیا چې کله هره قبیله اؤ دَ هغې سره تړلې وړې نورې قبیلې په دنیا کښې خورې شوې اؤ په جدا جدا علاقو کښې استوږن شوې په خپل مېنځ کښې حدونه لکه غرونه، دریابونه اؤ سیندونه وغېره مقرر شول، نو دغه شان ځان ځان له نوې ژبې جوړې شوې. ولې ځینې ماهرین وائي چې ژبه دَ بنیادم سره سمه پېدا شوې ده. دَ دغه ډلې دلائل مذهبي کتابونه اؤ صحیفې دي. قرآن پاک دَ ارتقاء نظریه رد کړې ده. الله تعالٰی په قرآن پاک کښې فرمائي چې:

وَعَلَّمَ آدَمَ الاَسماَءَ کُلَّهَا ( سوره بقره پاره 1 ایت 31 )

(اوښودلے شُو نومونه دَ ټولو څیزونو حضرت آدم ﷺ ته)

مطلب دا چې ژبه انسان ته دَ پېداوښت سره سمه په مکمل ډول کښې اوښودلے شوه یا دومره، څومره چې دَ هغه وخت ضرورت ؤ. کله چې دَ آدمؑ اؤلاد په بېلو بېلو علاقو خور شو اؤ په جدا جدا علاقو قابض شو نو دَ یؤ یؤ کس نه قومونه اؤ خېلونه جوړ شُو، قدرتي (جغرافیائي) حدونه لکه دریابونه، غرونه وغېره یؤ تر بله پولې اؤ بریدونه شُو. لکه څنګه چې آب وهوا دَ استوږنې دَ طور طریقو، دَ ځائې اؤ مقام اختلاف په بنیادم اثر وکړو دغه رنګ دَ پېړو تېرېدو نه پس دَ انسان په رنګ روغن کښې هم شکاره فرق اؤ بدلون مخښې ته راغلو. یعنې څوک تور، څوک سپین، څوک سُور، څوک نرې، څوک چیت، څوک لوَړ، څوک غټ اؤ

تندروست وغېره پېدا شُو. دغه رنګ تغيئر اؤ بدلون په ژبو کښې هم راغلو تر دې چې دَ ځينو قبيلو اؤ قامونو ژبې دومرهَ يؤ بل نه جدا شوې چې نوې ژبې ترې جوړې شوې. دَ ژبې دَ تاريخ په حقله اؤ دَ ژبې اغاز ته مونږ هله رسېدلے شُو کله چې دَ هغې ژبې څهٔ ليکلي مواد موجود وي.َد دنيا دَ زړو ژبو دَ ليک شروع ننني مروجه (الف،ب) نه نهٔ ده شوې بلکې دا تحريرونه اول سر کښې تصويري وو. دَ دې نه وروسته اوازي شکلونه ايجاد شول دغه شکلونو ترقي کوله، دَ ډېر بدلون رابدلون نه پس مختلفو ژبو دَ (الف،بې) شکل اختيار کړو اؤ نن سبا دَ دنيا ټولې ژبې په خپله خپله (الف،بې) کښې ليکلے کېږي.

دَ ژبو زوړ تاريخ تقريباً درې درې نيمو زرو کالو پخوا پورې رسي چې په کښې دَ مصر تصويري خطونه او دَ سامي ژبو فکري تحريرونه زاړه دي ولې دَ دې نه شاته محض قياسونه دي چې څهٔ کوټلے ثبوت نهٔ لري.

پښتو ژبه چې دَ خپل قدامت (زوړوالي) اؤ تاريخي پس منظر لهٔ رويه دَ نړۍ لهٔ يؤ شمېر زړو آريائي ژبو په قطار کښې منلے شوې ده، ولې دَ دې ژبې دَ ويُونکو دَ مسکن په حقله زاړه آثار لږ دي اؤ يا په قياسونو مبني دي. البته په دې کښې شک نشته چې هر چرته پښتون اولس اوسېدلے دے هم په خپله ژبه کښې ئې خپل احساسات نورو ته وړاندې کړي دي. پښتو نهٔ يواځې دَ پښتنو ژبه ده بلکې دَ دوي دَ ژوند ژواک اؤ دَ دود دستور هينداره هم ده. لهٔ دې سره دا دَ پښتون اولس دَ زرګونو کالو دَ رواياتو، ثقافت اؤ تاريخ پامته داره هم ده. هر څو کهٔ دَ دې ژبې لرغونے (زوړ) تاريخ په رواياتو، تاريخي اثارو اؤ يا په لرغونو ودانو کښې په نخښه شوے دے ولې بيا هم مونږ دا وئيلے شُو چې دا ژبه لهٔ هغه وخته نه په تاريخ کښې دَ نړۍ لهٔ نورو سيالو ژبو دَ سيالۍ جوګه پاتې شوې ده. دَ پښتون يا پښتو ژبې اؤ قام په حقله ژبپوهانو، څېړنکارانو، مورخينو اؤ جغرافيه دانو ډېر څهٔ وئيلي دي. لکه چې رګ ويد اؤ اويستا يا اوستا کښې دَ پښتو يا پښتون قام نوم پکهت، بخت يا بخد په نامه ذکر راغلے دے.

" د يونان مشهور مؤرخ هيروډوت (Herodote) ٤٨٤-٤٢٥ ق، م) هم پخپله مشهوره جغرافيا کي د پښتنو ذکر کوي، دي د پښتنو هيواد د پکټيکا (pactyica)په نامه يادوي چه د اندوس (Indus

اباسین) پر دي ښنده واقع دي. او خلق ئې ډیر عښتلي او مړني دي." iii

رګ وید په ۱۴۰۰ق م (ښوارلس سوه) کښې لیکلے شوے دے چې دَ پښتو یا پښتون نوم ئې پکهت یاد کړے دے اؤ اویستا په ۱۰۰۰ق م کښې لیکلے شوے دے چې دَ پښتو یا پښتون لپاره ئې بخت یا بخد نامه استعمال کړي ده. هم دَ دغه ذکر شوو زړو کتابونو اؤ پوهانو دَ لیک په تناظر کښې پکهت، بخت، بخد،پکهتو، بختو اؤ ورسته بیا پهٔ پښتو بدل شو.

دَ پښتو ژبې لرغونتوت (زوړوالے) اؤ رسم الخط

پښتو ژبه دومره زړه ده څومره چې پښتانهٔ زاړهٔ دي. ځکه چې دا دَ یوې قدیمي ژبې دَ نوم سره دَ هغو شو ثقافتي اقدارو دَ مجموعي نوم دے په کوم چې پښتون قام پېژندلے شي ولې دَ بد قِسمتی نه دَ پښتو ژبې لیکلي آثار دَ ګمنامی په تور تم کښې پټ پراتهٔ دي. دَ رګ وید تر مخښه پښتو دري زره ځلور سوه اؤ یویشت کاله زړه ده. 3421=1400+2021

دَ اویستا تر مخښه پښتو ژبه دري زره اؤ یویشت کاله زړه ده. 3021=1000+2021

عبدالحئ حبیبي ( پخوانی پښتو دوه نیم زره کاله مخکښې) مقاله کښې لیکي چې دَ ایران دارایوش نومې بادشاه (۴۸۶ق م نه تر ۵۲۲ق م ) پورې حکومت کړے دے. دهٔ دَ خپل سلطنت دَ کارونو، د صداقت، دَ امن دَ انصاف دَ خدائې پاک دَ ستاینې اؤ دَ دروغو اؤ ناپاکی نه دَ بېزاری بیان وغېره دَ غرهٔ په تیږه لیکلے دے چې دوه سوه څلوېښت(۲۴۰) کرښې دے په هره کرښه کښې (۴۵) حرفونه دي هر حرف دَ ۳ نه ۵ پورې د میخي علاماتو نه جوړ دے په دې حساب ټول علامات ووه زره پنځه سوه (۷۵۰۰) دي په دې بیان کښې دري (۳) دَ پښتو په رنګ مصرعې په میخي رسم الخط کښې لیکلے شوي دي چې په پښتو رسم الخط کښې به داسې شي.

نهٔ اړیکه ووم ( ضدي) (۱) Nê a ri k â hum

نهٔ دروه ژنه ووم (۲) Nê drau ja na â hum

نۀ زور کړه ووم (۳) Nê zura ka ra ê hum

دَ دي نه دا معلومېږي چې پښتانۀ دَ ایران په قطبي غرئیزه علاقه کښې آباد وو اؤ دا ترې هم څرګندېږي چې دغه ورځو کښې څۀ زمانه وړاندې اؤ ورستو میخي رسم الخط ؤ چې په دغه حساب پښتو تقریبا دوه نیم زره (۲۵۰۰) کاله پخوانی ده. دَ پټې خزانې نه (چې دَ محمد هوتک تذکره ده) دا ثابتېږي چې پښتو په دویمه صدئ هجرئ کښې لیکلے شوې ده. دَ امیر کروړ دَ ۱۳۹هـ نظم دَ دې دعوې په ثبوت کښې وړاندې کېدے شي، چې قدامت ئې دیارلس سوه څلور کالو ته رسي.1442-139=1304 دَ دې ټولو خبرو نه دا معلومېږي چې په ژباني لحاظ پښتو دَ سنسکرت اؤ اوېستا هومره زړه ژبه ده چې قدامت یا لرغونتوب ئې درې نیم زره کاله خواؤشا ته رسي. دَ پښتو وړومبے رسم الخط په قیاسونو اؤ روایاتو بانډې مبني دے لۀ دغه تر مخښه دَ پښتو آغاز پالي، خروشتي، میخي دَ دغه نه پس یوناني، برهمي، دیؤناګري اؤ اوېستائي رسم الخط کښې لیکلے کېده خو کله چې دَ اسلام رڼا خوره شوه نو عربئ رسم الخط دَ دغه ټولو ځائې ونیولو اؤ نن پښتو دَ څه کمې زیاتې سره په خطِ نسخ کښې لیکلے کېږي. دَ بعضو ژبپوهانو تر مخه سنسکرت، اوېستا یا ژند اؤ پښتو خوېندې دي سنسکرت هند ته لاړه هلته ترې هندي جوړه شوه. اوېستا یا ژند باختر ( ایران) ته لاړه هلته ترې پاړسو اؤ فارسي جوړه شوه اؤ پښتو دَ پکهت، بخت یا بخد، پکتین پښتون قام سره په خپلو دنګو دنګو غرونو ابشارونو، سیندونو اؤ مېدانونو کښې تر اوسه ژوندئ ده.

## دَ پښتو ژبې ټبر څانګه (خاندان) اؤ لهجې

اللہ تعالٰی په انسان ډېرې پېرزوئینې کړې دي. په دغه پېرزوئینو کښې دَ وېنا صلاحیت ډېر جوت دے. لکه چې اللہ پاک په قرآن کریم کښې فرمائي

وَ مَا اَرسلنَا مِن رَّسولٍ اِلَّا بِلِسانِ قومِهِ لِیُبَیِّنَ لهم.(سوره ابراهیم پاره13 ایت4 )

ترجمه ( او نه دے لېږلے مونږ هيڅ يو پېغمبر َد هغۀ قوم نه، بغېر َد هغوي َد خپلې ژبې نه. َد پاره َد دې چې هغوي لره ښۀ په واضحه طريقه پوهه کړي)

دغه َد وينا قوت دے چې انسان ته ئي په همه جهان واک او غوره والے بخښلے دے. َد ژبې لۀ برکته بنيادم خپل علم او تجربه لۀ نورو بنيادمو سره شريکوي. َد بنيادم پېژندګلو َد قامونو او قبيلو په وېش ولاړه ده. بيا َد قامونو او قبيلو تعارف او تعيُن َد ژبې او لهجو په بنياد کېږي. تاج سعيد َد پښتو ژبې د خاندان په حقله ليکي

"مشہور ماہر لسانیات ڈاکٹر جی اے گریرسن بتاتے ہیں کہ پشتو عبرانی نہیں بلکہ خالص آریائی زبان ہے۔ اسی طرح مسٹر راورٹی اور ڈاکٹر ٹرومپ نے اپنی اپنی گرامر میں لکھا ہے کہ پشتو ژند اور پہلوی آپس میں بہت زیادہ قریب ہیں یا پشتو زبان مغربی زبانوں سے نہیں نکلی بلکہ یہ انڈو آرین زبان ہے۔۔۔۔ اور یہ کہ وید، اوستا، ہیروڈوٹس کا جغرافیہ، سکائی لیس کا سیاحت نامہ اور بطلیموس کی دریافت شدہ کتابیں، قدیم آثار یا سیاحت ناموں میں پٹھان یا پشتون کا ذکر اسی طرح آیا ہے اور انہی سے معلوم ہوتا ہے کہ پشتون آرین ہیں۔"[iv]

َد دُنيا په مخ بې شمېره انسانان اوسېږي چې په خپلو کښې ئې تعارف َد اووه زره (۷۰۰۰) ژبو په زريعه کېږي. ډاکټر مېمن عبدالمجيد سندهي په خپل کتاب "لسانيات پاکستان" مخ 32 تا 35 کښې َد دغو ژبني ټبر ځانګو وېش شودلے دے ليکي چې
ژبپوهانو دغه ټولې ژبې په اتۀ (۸) کورونو ويشلي دي.
(۱) سامي (۲) هند چيني (۳) دراوړي (۴) مونډا (۵) افريقائي بانتو (۶) قديم امريکي (۷) ملايا (۸) هند يورپي (آريائي) په دغه ټولو لساني ډلو کښې لۀ ټولو نه لوې او َد اهميت وړ هند يورپي ډله ده. دغه هند يورپي ډله يو ځل بيا ژبپوهانو په اتۀ (۸) برخو کښې ويشلي ده. (۱) هند ايراني يا آريائي (۲) آرميني (۳) بلقاني سلاني (۴) البانوي (۵) هيسيليني (۶) اطالوي (۷) کيلتک (کلداني) (۸) ټيوټوني. په ذکر شويو اتۀ (۸) ډلو کښې هند ايراني په درې (۳) برخو کښې ويشلي شوې ده. ( ۱) داردک يا پشاچه (۲) ايراني آريائي (۳) هند آريائي. په دغه درې ډلو کښې پښتو َد ايراني اريائي ډلې سره تعلق لري. پښتو هغه ژبه ده چې َد پاکستان نه علاوه په يو شمېر ملکونو کښې په لوې تعداد ويونکي او ليکونکي لري. دغه ژبه َد خېبر پښتو نخوا او بلوچستان تر څنګه َد پاکستان په هر ګوټ کښې َد يوې

اشنا ژبې په حېث خپل لوړ مقام لري. غرض دا چې پښتو ژبه دَ ژبو دَ وېش دَ ایراني اریائي لساني ډلې یا ګروپ سره تعلق لري. په دې ګروپ یا ډلې کښې سغدي، زړه فارسي، ارمړي، بلوچي اؤ باختر وغېره هم شاملې دي.

## دَ پښتو ژبې لهجې

دَ نړۍ په معلومو ژبو کښې یوه ژبه هم دا دعوٰی نۀ شي کولے چې هغه دې په هر څه پوره اؤ کامله وي. ځکه چې حروف یؤ څو مخصوص اؤ دَ شمار دي ولې دَ دې په مقابله کښې اصوات یعنې اوازونه تر حسابه تېر دي اؤ دَ هر صوت دَ پاره هم َد هغه دَ غږ په حساب توري (ټکي) پېدا کول ډېر ګران اؤ ناممکنه غوندې ښکاري . البته دَ یوې ژبې لیک دود اؤ وېنا تر حده کېدے شي، چې هم په هغه مخصوصو حروفو کښې دې دَ ویونکي یا لیکونکي احساساتو اؤ جذباتو دَ اظهار بڼه ( شکل) په لیک اؤ لوست کښې برابره کړي. ځکه چې غږونه (اصوات) په تورو یا ټکو کښې بندول دومره مسلمه نۀ ده لکه څومره چې هغه لۀ تورو یا ټکو نۀ راویستل مشکل کار دے. هم دغه وجه ده چې دَ تورو یا ټکو یؤ تر بله په مختلف انداز کښې اورېدنه اؤ عام کېدنه دَ بېلا بېلو لهجو دَ را اوچتېدو سبب جوړ شوے یا جوړېږي. دَ پښتو ژبې دَ بېلا بېلو لهجو تعلق هم لکه دَ پښتون قام دَ مزاج په رنګ دے چې مختلف ډؤلونه لري څنګه چې پښتانۀ په بېلا بېلو ډلو اؤ خېلونو کښې وېشلے شوي دي دغه رنګ دَ پښتو لهجوي توپیر (فرق) هم دَ دې خېلونو اؤ یا دَ علاقائي جغرافیائي اثراتو لکه بله جدا جدا قِسمونه لري. دَ وخت دَ بدلون ،جغرافیائي حالاتو اؤ لۀ ځینې نورو قومونو سره دَ نزدېکت په سبب دَ پښتو په لهجو کښې واضحه فرق دے اؤ دا فرق په ځینې علاقو کښې دومره ډېر محسوسېږي چې دَ بلې علاقې خلق پرې په صحیح توګه نۀ پوهېږي اؤ دَ یوې نا اشنا ژبې په رنګ ورته ګوري. دَ پښتو لهجې په دوه ډؤله وېشلے شوي دي حالانکې په پښتنه سیمه کښې نورې هم ډېرې لهجې شتون لري لکه دَ کاکړو لهجه ، دَ اپرېدو لهجه، دَ خټکو لهجه، دَ مروَتو لهجه، دَ ګنډاپورو لهجه، دَ غلجو لهجه، دَ بنوڅو، وزیرو اؤ مسودو لهجه وغېره. یقیناً چې په دې کښې هره لهجه دَ دې قابل نۀ ده چې هغه دې منفرد لیک دود یا ځانله ګرامر اولري.

ژبپوهانو چې پښتو په کومو دوه لهجو کښې ویشلي ده په هغو کښې یوسفزی لهجه اؤ قندهاری لهجه دَ ذکر وړ دي.

۱)یوسفزی لهجه: یوسفزی لهجه په کابل، لوګر، لغمان، ننګرهار، خیبر، کرم، اورکزی، هنګو، کوهاټ، پېښور، مردان، صوابي، دیر، سوات، بونېر، مهمند باجوړ، دَ کرلاڼ ځینې قبېلې لکه اپریدي، اورکزي، بنګش، دلازاک، اتمانخېل وغېره کښې وئیلے کېږي. ژبپوهانو دَ پښتو لیک لوست د پاره هم دغه یوسفزی لهجه غوره ګرځولې ده چې ټولو پښتنو تسلیم کړې هم ده.

۲) قندهاری‌لهجه: قندهاری لهجه په قندهار، غزني، کوېټه، ژوب ، وزیریستان، بنو، لکي مروت، کرک اؤ دَ کوهاټ په ځینو علاقو کښې لکه غلزی، کاکړ، وزیر محسود، مروت، بنوڅي اؤ دَ خټکو په قبائل کښې وئیلے کېږي.

دَ لهجو فرق

پوهانو دَ پښتو ژبې دَ دواړو لویو لهجو (قندهاری اؤ یوسفزی لهجو) تقسیم دَ ځینو اوازونو اؤ تورو په وجه کړے دے دَ مثال په توګه په دغه تورو کښې "ژ" اؤ ګ/ږ، "ش" اؤ خ/ښ ، "چ" اؤ "س/څ" اؤ دَ "ج" "ځ" اؤ"ز" وغېره اوازونه شامل دي. په قندهاری لهجه کښې "ښ په ش بدلېږي چې دَ ټولو نه ساده اؤ روڼ مثال ئې پخپله پښتو یا پښتون دے په یوسفزی لهجه کښې پښتو اؤ قندهاری لهجه کښې پشتو یا پشتون وئیلے کېږي . دغه رنګ په یوسفزی لهجه کښې ږیره/ګیره اؤ ږلی په قندهاری لهجه کښې ژیره اؤ ژلی وئیلے کېږي وغېره.

دا یؤ کوټلے حقیقت دے چې دا کائنات په ضد روان دے. دا دَ انسان فطرت دے، عقلي تقاضا ده چې دے څۀ ښۀ واؤري، ښائست یا خوبي ووینې نو ستائنه ئې کوي اؤ چې څۀ نامناسبه، بدرنګه، عېب داره څېز ئې لۀ نظره تېر شي نو خپله رائې ظاهره کړي. په دې ډول په یؤ ادبي تخلیق خپله رائې ښکاره کول تنقید بللے کېږي.

دَ بني آدم پرمختګ هم دَ دې کتنې، سوچ اؤ جاج لۀ برکته شوے دے. کۀ الله پاک په بنیادم کښې دا صفتونه نۀ وے پېدا کړي نو بنیادم به هېچرې دَ ترقۍ اؤ پر مخ تګ لۀ برکته دومره لوړ ځائې ته نۀ وے رسېدلے. په انسان کښې الله

تعالیٰ دا صفت ایښې دے چې هر کله مخکښې یؤ څېز ورشي نو دے پرې فکر کوي اؤ بیا دَ دغه په رڼا کښې څۀ غوره کوي اؤ څۀ غندي.

هر نقاد دَ یؤ خاص ذوق خاوند وي. ذوق داسې صلاحیت ته وائي چې غونډ اثر نه پېدا کېږي. دا دَ کلونو نتیجه وي، دَ استوږنې، معاشرې، سوچ، فکر، سفر، تعلیم، مشاهدې اؤ دا رنګې نور څیزونه چې راجمع شي نو دَ نقد داخلي ملکه اؤ جوهر ورسره ملګرے شي اؤ دَ نظر یوه خاصه اندازه جوړه شي، دې ته ذوق وائي. دا قدرتي عطیه ده دَ هر چا خپل خپل اؤ بېل بېل ذوق وي.

چې ذوقونه جُدا شو نو لۀ دې کبله دَ تنقید کوونکو خیالات هم جدا شو. انداز ئې بېل شو. په دې وجه دَ نقاد نه دا خواهش نۀ دے لرل پکار چې دَ هغۀ رائې دې خلق بې د څۀ کمې یا زیاتې نه قبول کړي، ځکه چې دَ هر چا ذوق جدا جدا وي دَ طبیعتونو دا فرق قدرتي وي اؤ دَ دنیا یؤ طاقت هم دا فرق نۀ شي ختمولے.

"کیونکہ خود اللہ تعالیٰ نے انسانی برادری میں زبانوں کے اختلاف کو اپنی نشانیاں قرار دیا ہے، اس میں فقط زبانوں کا الگ الگ ہونا نہیں، بلکہ رنگ ونسل کا اختلاف بھی ایک خوبصورت گلدستے کا کام دیتا ہے۔ "[۷]

کۀ بني ادم چې څۀ دي په هغې تنقید نۀ شي کولے، دَ خپل ځان اؤ چاپېرچل جاج نۀ شي اخستے، نوهغۀ به نن هم په هاغه ځائې ولاړ وے کوم ځائې باندې چې الله پاک راکوز کړے ؤ.

دَ تنقید لۀ وجې نن بنیادم دَ اسمان په سینه قدمونه ایښلي دي په کوم قام کښې چې دَ سوچ اؤ فکر ماده زیاته وي، کوم قام چې دَ خپل ځان اؤ جهان ښۀ جاج اخستلے شي هم دغه قام دَ پرمختګ لارې پرانستلے شي. رنګ رنګ تخلیق کوي اؤ دَ نوي نه نوے اؤ دَ ښۀ نه ښۀ ایجاد دَ دنیا په مخکښې راوړاندې کوي.

هم په دغه تناظر کښې دَ پښتو ژبې اؤ ادب څېړنکارانو تر څنګه اروپائي څېړنکارانو هم دَ دې لرغونې ژبې په املائي ډانچه په زړۀ پورې لیکل کړي دي اؤ تر ډېره حده ئې دا لرغونې ژبه دَ نورو سیالو ژبو په قطار کښې اودرولې ده. یوه ژبه هم داسې نشته چې په خپل ځان پوره اؤ مکمله وي. پښتو املاء تر ډېره حده خپل منطقي انجام ته رسېدلې ده ولې بیا هم داسې تیکنیکي ستونزې لرې چې لرې کول ئې دَ وخت اهم

ضرورت دے. دَ نورو ستونزو نه علاوه په دغو کښې واحد غائب مذکر (ؤ)، (وۀ) یا (وھ) هم دے چې ډېر لیکونکي او ویونکي ئې په فکر کښې اچولي دي.

دَ باره ګلی املایي ډلې پوهان دَ ماضي بعید دَ واحد غائب مذکر دَ پاره په یو واؤ همزه (ؤ) لګوي چې دَ دغه ډلې په مخالفت کښې دا (ؤ) څوک په دا رنګ (وۀ) او څوک په دا رنګ (وھ) لیکي، چې نورو لوستونکو ته ئې لویه مسله پېدا کړې ده. مشتاق مجروح یوسفزے (چې دَ پښتو ژبې او ادب پوهه لیکوال او زما استاذ هم دے په دغه موضوع ښۀ عبور هم لري ) په دې حقله لیکي چې

..دَ باره ګلی پوهان دَ ماضي بعید دَ واحد غائب مذکر دَ پاره استعمالېدونکے فعل ناقیص "وھ" په دې شکل "ؤ" لیکي او عجیبه خبره دا ده چې دا واؤ ئې هم حروف تهجي کښې شامل کړے نۀ دے."vi

دَ مشتاق مجروح یوسفزي دَ دې خبرې سره خو اتفاق کېدے شي چې دا واؤ یعني (ؤ) ئې په حروف تهجي کښې نۀ دے شامل کړے البته دَ مجروح (وھ) سره هم اختلاف هم کېدے شي.

مجروح په بل ځائې کښې دَ یو بل حرف په حقله هم کوټلي لیکل کوي چې

" پښتو کښې په "ځیم" همزه هیڅ اواز نۀ ورکوي صرف د یو حرف تشکیل کښې اشتباه ختموي او باقي دغه دَ "ځ" همزه دَ "ځ" حرف اواز یا حرکت نه بیخي لا تعلق دے. خو باقي حرفونو باندې همزه دَ یو خاص اواز دَ پاره دَ معروفو قواعدو مطابق اچولے شي او اواز ئې هم دَ معروفو قواعدو دَ لاندې را وھ ځي لکه پښتو کښې اؤ، رؤ، دؤ، ځؤ، نؤ، یو وغېره کښې دَ دھ اواز محسوسېږي. دغسې عربي تکیو کښې همزه دَ یوې جټکې سره ادا کېږي لکه په "قرأت، جرأت، مؤنث، تأثر، تأمل" کښې چې دے. هم دغه رنګ په امریه یا باندې هم همزه کولے شي او هلته هم دَ یا اواز کښې بدلون راولي لکه "وځښئ، پاڅئ، کښېنئ وغېره کښې."vii

دَ دې اقتباس سره اتفاق کېدے شي ځکه چې په ځیم د همزه لګولو صرف دَ یو حرف پېژندګلو ده باقي په ځیم کښې هیڅ حرکت نۀ ورکوي. دغه رنګ په عربي کښې ئې اواز دَ جټکې دے او په

پښتو کښې چې لا دَ باړه ګلی پوهان ئې نۀ مني حالانکې منل ئې پکار دي لکه اؤ، نؤ، یؤ، دؤ، رؤ، منډؤ وغیره کښې خپل حرکت ورکوي کۀ په دغه ټکو همزه اونۀ کړے شي نو دَ کوم مقصد دَ پاره چې لیکلے شوي وي هغه معنی نۀ ورکوي.

دَ مثال په طور(او یا اؤ) حرف عطف یا وصلي حرف به او شي، منډؤ به منډوشي، رؤ به رو شي، دؤ به دو شي، نؤ ( ګنده وینه ) ب(نو) شي وغیره.

دا همزه په قومي ژبه اردو کښې هم مستعمل دے. لکه آؤ،جاؤ، مِلاؤ کھاؤ وغیره چې دلته ټکي له حرکت ورکوي.

دَ باړه ګلی مرستیالو له په دې حرفونو، ټکو اؤ حرکتونو ژور غور پکار دے. کۀ چرې دَ همزه دغه اواز اؤ حرکت په دغه ذکر شویو ټکو کښې اومنلے شي نو دَ (وۀ یا وھ) اؤ (ؤ) مسله به هم تر ډېره حده حل شي.

دَ مثال په طور دَ باړه ګلی حریفان چې کله دَ لفظ یا ټکي "اوبۀ" تقطیع اوکړي اؤ دَ اوبو نه "بۀ" لرې کړي نو تش "او" پاتې شي اؤ دغه "او" دَ باړه ګلی په نوي املاء کښې دَ "اؤ" حرف عطف په ځائې پکارولے شي چې صحیح نۀ ښکاري، ښکاره غلطي تصور کېږي اؤ ګوته پرې هم اوچتېدے شي. څه رنګ چې دَ باړه ګلی حریفان یا دَ ستر محقق قلندر مومند مرستیال دَ (اؤ) په واؤ همزه لیکي نو دلته دَ همزه حرکت محسوسېږي چې صحیح هم دے. کۀ چرته دغه همزه والا واؤ اومنلے شي اؤ دَ ټکي (اوبۀ) په رنګ دَ (اؤ) نه الِف لرې کړے شي اؤ تقطیع ئې اوکړے شي نو (ؤ) به پاتې شي چې دَ (وۀ یا وھ) نه په تلفظ کښې بیخي جدا دے.

مشتاق مجروح دَ (وھ یا وۀ) اؤ باړه ګلی (ؤ) په حقله دَ خوشحال خان خټک دَ یؤ غزل شعرونه ورکړي دي اؤ کوشش ئې کړے دے چې دَ باړه ګلی دَ واحد غائب مذکر(ؤ) دَ پاره دا (وھ) صحیح اومنلے شي.

هم دغه غزل دلته وړاندې کولے شي اؤ فېصله په لوستونکو ده چې کوم واحد غائب مذکر (ؤ)، (وۀ یا وھ) لیکل پکار دي.

غزل دے:

چې دا هسې بې نیازي کوې دا ښۀ کړې

زۀ بـه نـور يـاران پـېدا کـرم تـۀ بـه څۀ کـړې

بَـل څراغ غونـدې پـه شپـه دَ هجران راشه

چې پـه راغلـه مـې روښان دواړه لـېمۀ کـړې

خو لـۀ مـا نـه نـوره مۀ کـړه دَ زړۀ مـينـه

نـور مـې کل واړه منـلـي دي چې تـۀ کـړې

زمـا زړۀ درځنـې صبر (وۀ يـا وه) ۀ چې ګـونـګ شه

نـن زمـا طوطا يـوۀ ځو خبرې ( وۀ يـا وه ) وکـړې[viii]

دَ دې غزل پـه نـورو قـافـيوکښې تـلـۀ، اودۀ، مـړۀ، ورۀ او اوبـۀ شامـلـې دي.

دغه رنـګ دَ خوشحال بـابـا پـه نـورو غزلـو او ربـاعيـانـو کښې هم پـه دغه قـافـيـه نـور ډېـر شعرونـه مـوجـود دي. دَ کـلاسيـکـي دورې نـه علاوه دغـه (وۀ) نـن هم پـه قـافـيـه کـښې استعمـالـېږي.

هم پـه دغه قـافـيه او رديف کښې دَ خوشحال بـابـا بـل غزل شعرونـه دي.

دا چې وائـې چې دا بـد کـړې يـا دا ښۀ کـړې

کۀ رشتيـا وايـم زۀ نـۀ يـم واړه تـۀ کـړې

پـه خطـا بـانـدې عطـا، پـه طاعت قـهر

چې پـه وهم، فـهم نـۀ وي هغـه (وۀ يـا وه) ووکـړې[ix]

پـه يـوۀ بـل کلام کښې ئـې (وۀ يـا وه) وکـړې پـه رديف کښې پـکـار کـړے دے چې څه پـه دا ډول دے.

بـيـا وَ مـا وَ تـه غمزې نـګـارې (وۀ يـا وه) وکـړې

تـر تـېرې تُـورې ئـې لا خونـخوارې (وۀ يـا وه) وکـړې..[x]

دَ خوشحال بـابـا دغه شعرونـو کښې دَ وړومبـې غزل قـافـيـې پـه تـرتـيـب سره ښۀ، څۀ، لـېمۀ، تـۀ، وۀ، تـلـۀ، اودۀ، مـړۀ، ورۀ او اوبـۀ استعمـال شوې دي. پـه دغه غزل کښې يـوۀ شعر داسې دے چې

زمـا زړۀ درځنـې صبر (وۀ يـا وه) ۀ چې ګـونـګ شه

نـن زمـا طوطا يـوۀ ځو خبرې ( وۀ يـا وه ) وکـړې

ياده دي وي چې خوشحال بابا وۀ کړې داسې (وکړې) ليکلے دے ولې دَ نوې املاء تر مخه وکړې داسې (وۀ کړې) ليکل پکار دي. خوشحال بابا (وۀ) دَ نورو قافيو لکه ښۀ، څۀ، لېمۀ، تۀ، تلۀ، اودۀ، مړۀ، ورۀ او اوبۀ سره قافيه کړے دے. يا (وه) دَ نورو قافيو لکه ښه، څه، لېمه، ته وغېره سره قافيه کړے دے.

په ذکر شوي شعر چې مشتاق مجروح داسې ليکلے دے.

زما زړۀ درځني صبر وه چې ګونګ شه

نن زما طوطا يؤ څو خبرې وه کړې

په دغه شعر کښې "صبر وه" او "وه کړې" په تلفظ کښې د زمکې او اسمان هومره واضحه فرق دے، چې دَ باره ګلی املاء مطابق به "صبر (ؤ)" او "(وۀ) کړې" شي.

د (صبر ؤ) په تلفظ کښې شونډې بندېږي او (وۀ کړې) په تلفظ کښې جتکه دَه چې شونډې په کښې بېرته کېږي. کۀ دا (وۀ يا وه) داسې (ؤ) اوليکلے شي او دا (ؤ) په جتکې والا (وۀ يا وه) په ځائې استعمال شي نو د خوشحال بابا دَ غزل قافيې به هم داسې: ښو کړې، څوکړې، توکړې، لېموکړې، اودوکړې، اوبوکړې وغېره شي، ځکه چې دلته د (ؤ) او په (وۀ يا وه) کښې هيڅ فرق نۀ دے شودلے شوے، چې ډېره شکاره غلطي ده.

د نور وضاحت دَ پاره به مشتاق مجروح کتاب مخ 241 نه دوه جملې ورکړے شي چې د دواړو ؤ او وۀ يا وه بېلتون ترې وشي.

1.. د پښتو اکېډمی واکمنو دَ املاء په حقله ځينې نورې فېصلې وه کړې. دلته په وه کړې کښې شونډې بېرته کېږي دا وۀ يا وه دَ څۀ، ښۀ، نۀ وغېره سره قافيه جوړوي.

2.. دَ باره ګلی سېمپوزيم دَ املاء په حقله وه. په دې وه يا ؤ کښې شونډې بندېږي. دَ دواړو ؤ او وۀ يا وه په تلفظ کښې واضحه فرق دے ولې دَ دواړو په ليکلو کښې هيڅ فرق نۀ دے کړے شوے.

دلته دَ "ؤ" بېلا بېل قسمونه سره دَ مثالونو وړاندې کولے شي.

لکه... ؤ، وه، واه، (وۀ يا وه)، وو.

ا).. "ۀ" احمد راغلے ۀ، پېدا شوے ۀ، تلے ۀ، لېدلے ۀ، ښۀ ۀ وغېره.

ب).. "وه" رنا راغلي وه، پېدا شوي وه، تلي وه، لېدلي وه وغېره چې په دي کښي څۀ مسله نشته او ټول ئې مني.

ج).. "واه" واه دومره غصه، واه دومره حسن یا واه واه وغېره دا هم بېل بحث دے.

د).."وۀ یا وھ" احمد دا کار وۀ یا وھ کړه، وۀ یا وھ دي کړو، وۀ یا وھ لیکه، وۀ یا وھ دي لیکلو، وۀ یا وھ دي وئیل ورته وغېره.

ح).. "وو" جمع حاظر و جمع غائب مذکر. احمد او اسلم راغلي وو، دوي راغلي وو، هغوي راغلي وو، چې مؤنث به ئې په راغلي وې بدل شي. وغېره

دَ دي جملو نه مقصد دا چې دَ ۀ،وو، "وۀ یا وھ"، واه او وه پېژندګلو دَ دغه جملو نه واضحه کېږي. واحدغائیب مذکر "ۀ" خپل مخصوص اواز، حرکت او پیژندګلو لري.

دا بېخي غلطه ده چې "ۀ" دي په بل ډول اولیکلے شي. په "وۀ یا وھ" او "ۀ" کښي شکاره فرق دے دَ دواړو تلفظ واضحه بېلتون لري.

دا یو څو ټکي به دَ دواړو تر مېنځه فرق نور هم واضحه کړي.

وۀ ویشه ویشلے ۀ

وۀ وژنه. وژلے ۀ

وۀ ګڼه. کڼلے ۀ

وۀ کنځه. کنځلے ۀ

وۀ ګټه. ګټلے ۀ وغېره چې دواړو کښي فرق ترې په صفا ډول ثابېتېږي.

کۀ چرته دَ اردو دا جمله تقطیع کړے شي نو دَ واحد غائب مذکر "ۀ" پېژندګلو به ترې په صحیح توګه هم اوشي لکه دا چې:
"ارے بھائی او نا"

نو دَ تقطیع نه پس به داسي شي چې:

"آ، رے، بھا، ئی، آ، ؤ، نا"

دا ټول اووه سېلابه شُو چې شپږم ؤ هم دَ باړه ګلی مستعمل واحد غائب مذکر"ؤ" اواز ورکوي.

اوس هم کهٔ څوک په دواړو کښې فرق نهٔ محسوسوي اؤ یا پرې دَ قصده سترګې پټوي نو څنګه چې وړاندې دَ مشتاق مجروح په حواله ذکر شوے دے لیکي چې په ځیم همزه هیڅ اواز نهٔ ورکوي صرف دَ یؤ حرف په تشکیل کښې اشتباه ختموي اؤ دَ ځیم همزه اواز یا حرکت نه بیخي لاتعلق دے نو دغه رنګ دې واحد غائب مذکر ؤ هم دَ ځیم په رنګ اومنلے شي، حالانکې دَ دې واؤ همزه یؤ خاص اواز لري دَ مثال په طور په اردو ژبه کښې آؤ، جاؤ، ملاؤ، کھاؤ وغېره اؤ پښتو ژبه کښې پخپله واؤ، رؤ، دؤ، منډؤ، نؤ، یؤ وغېره.

کهٔ دَ دغه ذکر شویو ټکو تقطیع وکړے شي نو ټولو نه به خالص (ؤ) پاتې شي دَ مثال په طور دَ اردو آؤ، ملاؤ، جاؤ یا کھاؤ کښې دَ آؤ نه الف لرې شي یعنې "آ" تلفظ لرې شي اؤ دَ (ؤ) تلفظ ادا شي نو (ؤ) به پاتې شي. دغه مثالونه دَ نورو ټکو هم دي،

حالانکې دَ باړه ګلی سېمنار نه 30 کاله مخکښې پټه خزانه دویم چاپ 1339 هجري شمسي بمطابق 1960ء کښې هم دا (ؤ) استعمال شوے دے دَ بابا هوتک په حواله لیکي

" لوی شېخ ؤ او مشهور دي د ده کرامات، نقل دي چه د ده پلار بارو علیه الرحمه د تولر زوی ؤ او د تولر پلار بابا غلجي ؤ." [xi]

مشتاق مجروح دَ چرګی ھ په حقله خپله رایې ورکوي چې:

"اوس به دا بحث رالنډ کړُو پښتو کښې یؤ داسې اواز دے چې هغه نن سبا د (و) اؤ دَ (ه) دَ پاسه پهٔ همزه لیکلے شي. دَ دې غېر دَ پاره کھ یؤ تورے پېدا شي چې زمونږ مُشکل حل کړي نو پکار دي چې مونږ ئې قبول کړُو. مونږ دَ دې مقصد دَ پاره (ھ) پکاروو ځکه چې دا تورے پښتو کښې شته خو هېڅ کار ترې نهٔ شي اخستے."[xii]

مشتاق مجروح ډېر په زړهٔ پورې تجویز ورکړے دے چې اتفاق ورسره کېدے شي. خو چې دا شرط ئې په کښې هم لګولے وے چې

دا چرګی یا دوه سترګې (ﮬ) به صرف دَ واحد غائب مذکر دَ پاره استعمالولے شي چې داسې (وﮬ) به شي. کۀ يۇ طرف ته مشتاق مجروح دغه (وﮬ) چې مطلب ترې (وۀ) دے دَ هغه ټکو په (ه) چرته چې جتکه محسوسيږي اۇ په (ه) همزه لګولے شي استعمالوي. ولې بل اړخ ته دغه وﮬ يا وۀ چې دَ باره ګلی ۇ دے هم دَ واحد غائب مذکر دَ پاره په دغه رنګ ليکي، چې لوستونکي په مغالطه کښې اچوي.

غرض دا چې کۀ په پښتو املاء ښۀ ډېر کار شوے دے اۇ تر ډېره حده املاء سمه شوې هم ده ولې څېړنکارو له پکار دي چې په دې موضوع درنه ناسته وکړي. ټيک ته ټيک اۇ غلط ته غلط ووئيلےشي. د کينې، بغض، حسد، انتها پسندی اۇ تنګ نظرۍ نه ډډه اوکړي، يۇ بل ته اوږه شکته کړي چې دَ املاء دا پاتې مسلې هم په روڼ تندي حل شي.

په اخر کښې دَ پښتو ژبې دَ پرمختګ دَ پاره څو تجاويز وړاندې کولے شي.

(ا) دَ باره ګلیٰ په فېصلو کښې دې نورې فېصلې هم اضافه شي، په دغه فېصلو کښې دې داسې حکم وي چې دَ پښتو په بعضو ټکو دې ( َ ) زوَر، زېر ( ِ ) اۇ مد وغېره په وخت دَ ضرورت لګولے شي. دَ مثال په توګه:

تۀ (راغلې) اۇ (تۀ راغلې وې) کښې په تۀ راغلې کښې په (غ) مد اۇ په راغَلې کښې په (غ) زوَر پکار دے دغه رنګ زبر چې (زور) ليکلے شي اۇ (زور) په معني د طاقت هم زور ليکلے کېږي کۀ دَ زبر يا زور په واۇ کش يا زبر اوشي نو د دواړو پېژندګلو به ترې کېږي. داسې نور ډېر ټکي شته چې دغه ستونزو سره مخ دي. دَ مثال په طور

تلل، (روانېدل) اۇ تلل (وزن کول)، ګرم (دَ يخ ضد) اۇ ګرم (ملامته)، شل (په پښو معذوره) اۇ شل (دَ نولس نه پس عدد)، واوره (کنګل شوې اوبۀ) اۇ واوره دَ اورېدل نه فعل امر) وغېره بېشماره ټکي دي چې زبر، زېر، پېش، زورکے، زېرکے اۇ مد ضرورت لري. داسې ټکي هم شته چې تلفظ ئې په اعرابو نۀ حل کېږي دا مسله د نورو ژبو هم ده، چې د جملو نه پېژندے شي. دَ مثال په طور لور (طرف) اۇ لور (دَ ريبلو آله) يا خور ( د ورور ضد) اۇ خور (منتشر) وغېره.

کهٔ څوک وائي چې په ټکي به ټکے یا په حرف به حرف نهٔ سوروو نو دغه قاعده خو هسې هم ماته شوې ده. زمونږ سره حکمیه او فعلیه یا (ئ) او واحد غائب مذکر (ؤ) یا د نورو ژبو نه راغلو ټکو باندې حرکتونه سواره شوې دي.

(ب) په حروفِ تهجي کښې دې همزه والا (ۀ) او دَ واحد غائب مذکر دَ پاره استعمال (ؤ) هم شامل کړے شي. ځکه چې دغه حرفونه په پښتو کښې مستعمل دي ولې په حروف تهجي کښې نشته.

دَ دې تر څنګ دې په حروف تهجي کښې نون غنه (ں) هم شامله کړے شي ځکه چې نون غنه (ں) په اسمونو کښې هم شته چې روڼ مثال ئې دَ میاں سیّد رسول رسا نوم دے دغه رنګ دَ پیشو، کارغه، ګډې او غوا وغېره په اوازونو کښې هم نون غنه پکارېږي.

3.. په دال (د) حرفِ اضافت دې کش کولے شي او دَ دې تر څنګ واؤ (و) چې چا ورته زوائید او چا حرف تعلق، حرفِ جار او حرفِ ربط وئیلے دے کوم چې زمونږ کلاسیکي شاعرانو کهٔ دَ هر مقصد دَ پاره پکار کړے دے یا ئې پرې دَ سېلاب یا چپې اضافه کړې ده، نن سبا هم دغه واؤ په جنوبي لهجه کښې ډېر ډېر ترسترګو کېږي. نو په دغه واو دې هم کش یا زبر وشي چې دَ حرف (د) دال او حرف(و) واؤ نه ئې جدا پېژندګلو وشي. دَ مثال په طور دَ رحمان بابا شعر دے.

وَ هر چاته په خپل شکل ځرګندېږم

ائینې غوندې بې رویه بې ریا یم [xiii]

یا دَ خوشحال بابا شعر دے چې.

وَ بینا وَ ته سُور مهر یم دَ زړو

په دلیل دَ نا بینا لکه پوچک یم [xiv]

دَ خوشحال بابا او رحمان بابا په شعرونو کښې چې کوم واو حرف زائید استعمال شوے دا واؤ دې په کش یعنې زبر داسې (وَ) ولیکلے شي. په ځینو ځایونو کښې دغه واو زوائید هم نهٔ دے لکه دَ خوشحال بابا شعر دے

څهٔ ته وما وائې اے ناصحه چې عشق هېر کړه

چې بې دَ عشق دَ کاره مې نور تول کارونه هېر دي.[xv]

خوشحال بابا په دي شعر کښې (و) دَ (ته) حرف ربط، حرف جار یا حرف تعلق په معني کښې ادا کړے دے. اؤ(ته) ئې دَ (له) په معني استعمال کړے دے.

حواله جات

[i] عبدالحي حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ(لومړے ټوک) کابل 1325ء مخ ۱۵۵:

[ii] هم دغه مخ ١٦

[iii] هم دغه مخ ۴۶,۴۷

[iv] تاج سعید، پشتو ادب کی مختصر تاریخ، ایس ٹی پرنٹرز، گوالمنڈی راولپنڈی، طبع دوم 2005ء ص 7,8

[v] پروفیسر پریشان خٹک، لسانی رابطہ، ہائی لائٹ پرنٹرز، لاہور، طبع اول اپریل 1987ء مخ 6

[vi] مشتاق مجروح یوسفزے، ساهو پښتو، قلندر مومند ریسرچ سېل، پېښور، کال2016ء ، مخ: 256

[vii] هم دغه مخ256,257

[viii] حبیب الله رفیع، د خوشحال خان خټک دیوان، سهر مطبعه،کال 1397/2018 ء ، مخ 757,758

[ix] هم دغه مخ 755

[x] هم دغه مخ754

[xi] محمد هوتک، پټه خزانه، د پوهني وزارت دارلتالیف ریاست، دوهم چاپ 1339 هـ ش. مخ 8

[xii] مشتاق مجروح یوسفزے، ساهو پښتو، قلندر مومند ریسرچ سېل، پېښور، کال2016ء ، مخ:214

[xiii] دوست محمد خان کامل مومند اؤ قلندر مومند، د رحمان بابا کلیات، افغان پرنټرز، کابل، 27 جنوري 1983ء، مخ141

[xiv] سیّد رسول رسا، ارمغان خوشحال،ماسټر پرېس، محله جنګي، پېښور، دویم ځل 2001ء، مخ:۲۵

[xv] دوست محمد خان کامل، کلیات خوشحال خان، دانش کتب خانه پېښور س،ن مخ 491